# د ثمینه قادر د شاعرۍ موضوعاتي مطالعه

## (A thematic study, of the poetry of Samina Qadir)

Asia Yousufzai*

**Abstract:**

Samina Qadir originates from Sawat. She is a distinguished member of the Writers' Guild, the Anjuman Taraqi Pasand Musannifeen (Association of Progressive Writers), and the Abasin Arts Council in Peshawar. She has crafted poetry on a myriad of subjects, where the shades of progressivism, social realism, resistance poetry, and Romanticism are most pronounced. She is a perceptive, discerning figure, a woman of profound conviction. Beyond the boundaries of her own community, she has composed a wealth of verses championing the vital cause of peace. Her writings often spotlight the grievous plight of women and their rights. Her poetry calls for the awakening of political and social awareness among the masses. Romantic undertones also infuse her work, as she articulates her romantic thoughts in a diversity of meaning with dignified grace، earnestness، and as a responsible member of her society. Samina Qadir's poetry encompasses various aspects of human existence, yet it predominantly casts light on the authentic struggles of life. She possesses a keen and incisive understanding of the real challenges facing her nation and society, offering an honest depiction of the national and social landscape.

**Key words:** Poetry, Samina Qadir, Sawat, Thematic, Study

## د ثمینه قادر پېژندګلي

ثمینه قادر د سوات د ښائسته سیمې سره تعلق لري. څلور شعري مجموعې ئې چاپ شوي دي. په کال ۱۹۲۸ کښې ئې د پېښور ماډل سکول نه د خپلو ابتدائي زده کړو شروع

* Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar
asia93644@gmail.com

اوکړه او تر نهم ټولګي پورې ئې دغه سکول کښې سبق اووئيلو ـ په نهم ټولګي کښې وه چې عبدالقادر خان سره ئې واده اوشو خو خپل تعليم ئې جاري اوساتلو او دولسم جماعت ئې پاس کړو۔ د ادبي تنظيم "رائټرز ګلډ" او د انجمن ترقي پسند مصنفين ايګزيکټيو ممبره او اباسين آرټس کونسل پېښور د مشاورتي کونسل ممبره ده ـ په ريډيو پاکستان پېښور کښې ئې هم خپل فني سفر د يوې صداکارۍ په حېثيت شروع کړے ؤ ـ

## د ثمينه قادر د شاعرۍ اهم موضوعات

د ثمينه قادر د شاعرانه موضوعاتو په حواله ډاکټر زبېر حسرت ليکلي دي:

د ثمينه قادر مينه په شاعرۍ کښې د ژوند د زيست روزګار، غم درد، د کلهم انسانيت مسئلې مشکلات او په خصوصي توګه د ښځو د چاپېرچل ګراني کړاوونه، ستونزو، ژوبل ژوبل احساساتو او جذباتو تذکرې بيان شوي دي۔ (۱)

د ثمينه قادر په شاعرۍ کښې په ګڼو موضوعاتو شعرونه موندلے شي خو دا موضوعات ئې په شاعرۍ کښې غالب حېثيت لري۔

## ترقي پسندي

ترقي پسندي يو ادبي رجحان او ادبي نظريه ده۔ دا نظريه د يو تحريک په شکل کښې شروع کړے شوې وه۔ د ترقي پسند تحريک اولنے اجلاس پېرس کښې په **1935**ء کښې شوے ؤ او بيا د دنيا په مختلفو ملکونو کښې د دې څانګې پرانستے شوې۔ هندوستان کښې د دې تحريک نوم " انجمن ترقي پسند مصنفين" کېښودے شو۔ د دې فکري او ادبي تحريک منشور کښې دا سې وئيلے شوي دي:

> انجمن کا مقصد ادب اور آرٹ کو دقیانوسوں سے بچانا ہے فنون لطیفہ کو عوام کے قریب لانا ہے۔ ادب میں بھوک، غریبی، سماجی پستی اور سیاسی غلامی سے بحث کرنا ہے۔ وہ ادب جو سست بے کار بنائے جعت پسند ہے جو عقل کو روشنی دے وہ ترقی پسند ادب ہے۔ (۲)

ثمينه قادر يوه حساسه، باشعوره او د ژور نظر مېرمن ده۔ د هغې د خپلې معاشرې نه علاوه خپل وطن او ګاونډي مسلمانانو ملکونو کښې کېدونکي ظلمونو ته هم د غور په نظر کتلي دي او چې څۀ ئې ليدلي او محسوس کړي دي نو هغه ئې د خپلې شاعرۍ موضوعات ګرځولي دي هغې د نړۍ د ټولو خلقو مسئلې، کړاوونه او غم درد هم بيان کړے دے۔

د فلسـطين د ګلالـو بچـو قصـور مـې څـهٔ دے
وزيرسـتانه سـتا پـه حـال څـهٔ شرمسـار نـهٔ يُـو
اوس مـو پـه زړهٔ کښـې د اميـد لمنـې اور اخيسـتے
غليمـه نـور دې ظلـم ؤړلـو تـه تيـار نـهٔ يُـو
کـهٔ ژونـد کـوو خـو پـه مثـال مـونږه د مـړو ګرځـو
پـه خپـه اوږي يُـو نهـر يُـو څـهٔ بيمـار نـهٔ يُـو (۳)

## سماجي حقيقت نګاري

د حساس زړهٔ او ذهن تخليق کار چې په خپله ټولنه کښې داسې دود دستور ګوري چې غېر انساني او غېر اخلاقي وي او د انسانانو د ازادۍ او خوشحالۍ په لاره کښې خنډ وي نو د هغې خلاف اواز پورته کوي ځکه چې اديب د خپلې ټولنې ترجمان وي۔ ډاکټر نعيم تقي په دې حواله ليکلي دي:

ادب اور معاشرہ دونوں ایک دوسرے کے لیے لازم وملزوم ہیں۔ ان کی ہم رشتگی کو کسی طرح بھی جدا نہیں کیا جا سکتا۔ یہ قطعی ناممکن ہے کہ ادب جس زمانے سے متعلق ہے اس سے مربوط نہ ہو۔ ادیب جب بھی اپنے عمرانی، سماجی، اقتصادی اور سیاسی مسائل پر تبصرہ کرتا ہے وہ اپنے ماحول کو کسی طرح بھی نظر انداز نہیں کر سکتا۔ یعنی اپنے معاشرے کا کسی نہ کسی حد تک ترجمان ضرور ہوتا ہے۔ (۴)

په پښتنه ټولنه کښې د سورې رسم يو ناروا او غېر انساني رسم دے ځکه چې مشران د خپل يو غلط اقدام او ظلم زياتي په بدله کښې پېغلې جينکۍ د مظلومو او مقتولو سړو په حواله کوي نو دا د ټولنې داسې مکروه او قبيح فعلونه دي چې خاتمه ئې ضروري ده۔ د دې خلاف شاعر د خپلو شعرونو په ذريعه د اولس ذهنونه بېداروي۔ ثمينه قادر هم د دې رسم خلاف داسې غږ پورته کړے دے:

سـوره نـام د جهالـت دے چـې تورسـرې پـرې سـوزېږي
د تهـذيب پـه دې جهـان کښـې د چا زړهٔ پـرې نـهٔ لړزېږي (۵)

انصاف هم د يوې ټولنې د افرادو بنيادي ضرورت دے۔ انصاف سماجي وي کهٔ عدالتي وي خو چې د عام اولس د ځان مال او عزت تحفظ نهٔ شي کولے نو ټولنه کښې بې چينې، افراتفري او مايوسي پېدا شي۔ ثمينه قادر په خپل قوم او ملک کښې د انصاف کمزورے

صورتحال دا سې بیان کړے دے:

د ښار قاضي به انصاف راکړي ماته
بس یو ډک جیب ورته د زر پکار دے (۲)

## امن پسندي

امن د یو قوم او ټولنې د ترقۍ او سوکالۍ وړومبے ضرورت دے. بد امني د قومونو او ملکونو په مېنځ کښې د جنګ جدل په صورت کښې وي او کهٔ ملک کښې دننه د لساني یا مذهبي تفرقاتو په نتیجه کښې وي، د ټولنې او ملک و قوم ترقۍ او خوشحالۍ ته نقصان رسوي:

د جنګ فساد په دې دنیا کښې مونږه امن غواړو
په مونږ دا جنګ چا راتپلے هېڅ جواز نهٔ لري (۷)

پېښور دے کهٔ کابل دے
یو مې کور بل مې منزل دے
پېښور لوګے شو
په کابل باندې اور بل دے
چې ئې باد ترخورجنت دے
د مغل نیت درته غل دے
هر زورګیر دلته سر اېښے
هر یو ځوان ئې یو اتل دے
اوبهٔ نهٔ په ډانګ بیلېږي
په پښتو کښې دا متل دے
بس د امن ضرورت دے
د دې شخړو دغه حل دے (۸)

## بېداري او مزاحمت

د یو قوم دود دستور وي او کهٔ د یو ملک نظام کله چې خپل اولس ته انصاف، امن او سیاسي حقوق نهٔ ورکوي نو د ټولنې د نورو طبقاتو نه زیات شاعر په دې باب کښې خپل تخلیقي قوت او قلم استعمالوي او د اولس د حقوقو غږ پورته کوي. اولس کښې شعور او بیداري پېدا کوي. د

نظام د نامناسبه قوانینو او د رویو خلاف په اولس کښې د مزاحمت او مقابلې قوت د پېدا کولو هڅې کوي. ثمینه قادر هم خپل اولس ته د بیدارۍ او مزاحمت داسې غږ کوي.

د خپــل حــق تپــوس نــه چــرې پــه ځنــګ نــۀ شــې
پښــتنو دغــۀ پېغــام مــې زېــرِلــب دے (۹)

پاســه پښــتونه! رابېــدار شــه انقــلاب راولــه
دې غاصــبانو لــره تنــدر شــه عــذاب راولــه
ئــې پــه اســمان بانــدې ښــۀ درون زړۀ ښــکته پورتــه نــۀ کــړې
د مینــې درس لــره وطــن کښــې یــو ســېلاب راولــه (۱۰)

د معاشرې د بدحالۍ لوئې سبب د نظام نا انصافي ده. معاشره کښې د غریب، مزدور او دهقان هېڅ حقوق نشته. دې غریبې طبقې ته برابر سماجي حقوق نۀ دي حاصل. ثمینه قادر د غریبې طبقې په حق کښې هم اواز پورته کړے دے او وائي:

دا نظـــام د بـــدبختۍ بـــدلؤل غـــواړي
چـــې تفریـــق ورک شـــي د خـــان او د دهقـــان (۱۱)

## د ښځو حقوق

ثمینه قادر په ټولنه کښې د ښځو په مقام او هغوي سره په ناروا سلوک ژور نظر لري. د ښځو په بدحالۍ او د هغوي د حقوقو په حواله ئې ډېر شعرونه وئیلي دي چې د هغې په څلورو واړو شعري مجموعو کښې په دې موضوع شعرونه موندے شي. لکه وائي:

زۀ هـــم مـــور یـــم او هـــم خـــور یـــم
شـــمع بلـــه زۀ پـــه کـــور یـــم
زۀ د وخـــت پـــه هنګـــامو کښـــې
یـــو قـــرار د زړۀ ټکـــور یـــم
د تهـــذیب پـــه دې ســـفر کښـــې
زۀ د صـــبر منـــاره یـــم
د شـــعور پـــه دې غورځنـــګ کښـــې
زۀ د عصـــر کنـــاره یـــم (۱۲)

ثمینه قادر دا موقف لري چې زهٔ مور او خور یم او د زړونو ټکور یم خو د دې هر څهٔ باوجود ما سره زور ظلم او زیاتے کېږي۔

پــه وحشــت د کائنــات کښــې د رڼــا ســپینه ولــه یــم
د محنــت پــه ســپېره تنــده ځلنــده لکــه خولــه یــم

د ادم پـــه تنهـــایۍ کښـــې د حـــوا د خُلــې ســـندره
د جنګونـــو پـــه ســـور اور کښـــې زهٔ د امـــن یـــم کـــونتره

زهٔ د پــلار نــاموس عــزت یــم او د ورور د ســر دســتار
د ښــتن د ژونــد ملګــري د بچــو ډیــوه د لار

خپـل مقـام تـه فکـر اوکـړم د پښـو لانـدې مـې جنـت دے
خو د جهل په تیارو کښې یم قربان دا مې عظمت دے (۱۳)

## رومانیت

رومانیـت د کلاسـیکیت پـه ضـد د بغـاوت یـو فکـري او ادبـي تحریـک ؤ چـې پـه شاعرۍ ئې اثرات ډېر زیات دي۔دا د شاعرۍ یو خاص فکري رجحان دے چې د ژوند د تراخهٔ حقیقتونو د بیانولو په ځائے په کښې شاعر د تخیل په جهان کښې خپل جذبات او احساسات وړاندې کوي۔ د کلاسیکي روایتونو پابندي نهٔ کوي۔ پـه یـوه ازاده رومـاني فضـا کښې په پوره ازادۍ سره خپل خیالات وړاندې کوي۔ ځینو نقادانو دې تـه مریضـانه مسـلک هم وئیلي دي لکه پروفیسر انور جمال لیکي:

رومانیت ایک طرح کا ناسٹلجیا ہے جو مریضانہ مسلک رکھتا ہے۔ جس میں شعور اور سنجید گی کی بجائے بے لگام خیال پروری اور انائی عناصر کا غلبہ ہوتا ہے۔ ادب میں رومانیت کا باقاعدہ بانی روسو ہے۔ رومانیت کلاسیکیت سے بغاوت کی تحریک ہے۔ کروچے نے رومانیت کو کلاسیکیت کي بجائے حقیقت پسندي کی ضد قرار دیا ہے۔اور داخلیت کو اس کا اہم عنصر بتایا ہے۔ رومانیت ایک طرز احساس اور انداز اظہار ہے۔ جس میں فکر کے مقابلے میں تخیل کی گرفت مضبوط ہوتی ہے۔(۱۴)

ثمینه قادر روماني خیالات په وقار ،سنجیدګۍ او د ټولنې د یو ذمه داره فرد په حېث ډېر وسیع معنویت سره وړاندې کړې دي.

په اطلس کم خواب رېښم باندې به څهٔ کړم
چې په زړونو کښې د مینې دولت ورک شي
په عرب او عجم تور او په سپین نهٔ ده
بس په مینه د ایمان دې سرے کلک شي (۱۵)

په دې لاندې شعر کښې د هجر د شپې د باران سره نسبت یو ښکلې تلازمه ده؛

د تنهایۍ دا شپه هم سم لکه قیامت راولي
د هجر شپه دې د باران سره نسبت راولي (۱۵)

د ساقي د میخانې طواف مې پرېښو
چې عادت زهٔ ستا د شونډو په ډک جام شوم (۱۲)

د ثمینه قادر شاعرۍ د ژوند د ګڼو موضوعاتو احاطه کوي خو د ژوند حقیقي مسئلې ئې په شاعرۍ کښې زیاتې بیان کړې دي. د خپل قوم او ټولنې په حقیقي مسئلو ئې ژور نظر دے او په دې لحاظ ئې د قوم او ټولنې د ژوند ریښتونې نمائندګي او ترجماني کړې ده.

# حوالې


۱۔حسرت، محمد زبیر، ډاکټر، ثمینه قادر د مینې یو نوے اواز(سریزه) پېښور، دي پرنټ مین پرنټرز اینډ پبلشرز، ۲۰۱۲،مخ۲۱

۲۔وقار احمد رضوي، ډاکټر،تاریخ جدید اردو غزل، اسلام اباد،نېشنل بک فاؤنډېشن ۱۹۸۸،مخ۲۲۲

۳۔قادر ،ثمینه، سپېځلې جذبې، مخ۷۲

۴۔نعیم تقي، ډاکټر، تنقید و آګهي، کراچي،غضنفر اکېډمي، س ن ، مخ ۱۳

۵۔قادر،ثمینه،سپېځلې جذبې ، مخ ۷۸

۶۔قادر،ثمینه،ورنده وچوبے،پېښور،یونیورسټي بک ایجنسي ،۲۰۲۱ مخ۴۸

۷۔قادر، ثمینه، زنځیر له شړنګ ورکوم، پېښور، منګل کتاب کور،۲۰۲۲، مخ۲۱

۸۔قادر، ثمینه، ورنده وچوبے،مخ۴۴

۹۔هم دغه، مخ ۱۰۰

۱۰۔قادر، ثمینه، سپېځلې جذبې، مخ ۸۹

۱۱۔قادر، ثمینه، ورنده وچوبے، مخ۷۸

۱۲۔قادر، ثمینه، زنځیر له شړنګ ورکوم، مخ۱۳۸

۱۳۔قادر، ثمینه، سپېځلې جذبې، مخ ۷۸

۱۴۔انور جمال، پروفېسر، ادبی اصطلاحات، مقتدره قومي زبان اسلام آباد، ۲۰۱۷ مخ۱۱۲

۱۵۔قادر،ثمینه،ورنده اوچوبے،مخ ۳۹

۱۶۔هم دغه، مخ ۷۴

۱۷۔قادر،ثمینه،سپېځلې جذبې ،مخ ۵۱

## References


1) Hasrat, Muhammad Zubair, doctor, Sameena Qadar da meeni yaw naway awaz (sareeza) Peshawar, the print main printers and publishers, 2016, makh 21
2) Waqar Ahmad Rizvi, doctor, tarekh e jadeed urdu ghazal, Islam Abad, national book foundation, 1988, makh 662
3) Qadir, Sameena, spaizali Jazbe, makh 72
4) Naeem Taqi, doctor, tanqeed wa Agahi, Karachi, Ghazanfar academy, san neshta, makh 13
5) Qadir, Sameena, spaizali Jazbe, makh 78
6) Qadir, Sameena, wranda wachoobay, Peshawar, Uinversity book agency, 2021, makh 48
7) Qadir, Sameena, zanzeer la shrang warkaom, Peshawar, Mangal ketab koor, 2022, makh 61
8) Qadir, Sameena, wranda wachoobay, makh 44
9) Ham dagha, makh, 100
10) Qadir, Sameena, spaizali Jazbe, makh 89
11) Qadir, Sameena, wranda wachoobay, makh 78
12) Qadir, Sameena, zanzeer la shrang warkaom, makh 138
13) Qadir, Sameena, spaizali Jazbe, makh 78
14) Anwar Jamal, professor, adabe estelahat, muqtadara qoomi zuban Islam Abad, 2017, makh 112
15) Qadir, Sameena, wranda wachoobay, makh 39
16) Ham dagha, makh 74
17) Qadir, Sameena, spaizali Jazbe, makh 51